28.6.2.1 د داخلي امنيت پلان منظوروي، نو له نافذه مقرري سره سم ترون لرونکي ته به په ليکلي دول (سره د هغو شرطونو چې پر تاييد وضع شوي) د منظورى په اړه خبرتيا ورکوي؛

28.6.2.2 له نافذه مقررې سره سم په وړاندې شوي پلان کې د تعديلاتو غوښتنه کوي او يا د وړاندې شوي پلان په اړه نظر ورکوي، وزارت بايد ژر تر ژره په ليکلي دول د دغه دول تعديلاتو يا نظر په اړه ترون لرونکي ته خبر ورکړي.

28.7 که چېرې وزارت ترون لرونکي ته د ۲۸,۷,۲ مادې مطابق خبرتيا لېږي، نو :

28.7.1 ترون لرونکى بايد د داخلي امنيت وړاندې شوى پلان تعديل کړي او د وزارت د نظر يا غوښتنې مطابق تعديلات په کې ترسره کړي؛

28.7.2 ترون لرونکي بايد د داخلي امنيت پلان (په شمول د هغو تعديلاتو چې په۲۸,۹ ماده کې اشاره ورته شوې) د خبرتيا له تر لاسه کولو وروسته څومره ژر چې شوني وي، وزارت ته تسليم کړي؛

28.7.3 د داخلي امنيت د وړاندې شوي پلان له تر لاسه کولو وروسته چې ۲۸,۱۰ مادې مطابق وزارت ته سپارل شوى، امارت ژمنه کوي چې وزارت وړاندې شوى پلان ژر تر ژره بيا ارزوي او په دې اړه ترون لرونکي ته د هغو پړاونو مطابق چې په ۲۸,۱۱,۱او ۲۸,۱۱,۲ ماده کې ذکر شوي، ليکلى خبر ورکوي؛ او

28.7.4 هغه پړاوونه چې له ۲۸,۱۰ څخه تر ۲۸,۱۲مادو کې ورته اشاره شوې، تر هغې مودې پورې به تکرارېږي، تر څو چې وزارت له نافذه مقررې سره سم د داخلي امنيت اړوند وړاندې شوى پلان منظوروي.

**د داخلي امنيت د منظور شوي پلان عوض کول**

28.8 که چېرې د نافذه مقررى له مخې اړتيا وليدل شي، ترون لرونکى مکلف دى چې د داخلي امنيت منظور شوي پلان باندې بيا کتنه وکړي او هغه تازه کړي، د منظور شوي امنيتي پلان د عوض کولو لپاره به د داخلي امنيت نوى پيشنهادي پلان وړاندې کوي.

28.9 ترون لرونکى مني چې د کانونو نافذه مقررې سره سم وزارت ته د داخلي امنيت د پيشنهادي پلان په وړاندې کولو سره، نوموړى ترون لرونکى ممکن د داخلي امنيت د منظور شوي پلان د تعويض لپاره غوښتنه وکړي (که څه هم د پلان نوې تعديل شوې بڼه ۲۸,۹ مادې مطابق وي يا هم په بل دول).

28.10 امارت ژمنه کوي چې څومره ژر چې شوني وي، د ۲۸,۸,۳مادې سره سم د داخلي امنيت پيشنهادي پلان تر وړاندې کولو وروسته:

28.10.1 د کانونو نافذه مقررې سره سم د وړاندې شوي پلان ارزونه ترسره کړي؛ او

28.10.2 که چېرته وزارت:

28.10.2.1 له نافذه مقررې سره سم د داخلي امنيت پلان منظوروي، نو ترون لرونکي ته به په ليکلي دول (سره د هغو شرطونو چې پر تاييد وضع شوي) د منظورى په اړه خبرتيا ورکوي.

28.10.2.2 د کانونو نافذه مقررې مطابق په وړاندې شوي پلان کې د تعديلاتو غوښتنه کوي او يا د وړاندې شوي پلان په اړه نظر ورکوي، وزارت بايد ژر تر ژره په ليکلي دول د دغه دول تعديلاتو يا نظر په اړه ترون لرونکي ته خبر ورکړي.

28.11 که چېرې وزارت ترون لرونکي ته د ۲۸,۸,۳مادې مطابق خبرتيا لېږي، نو له ۲۸,۹ تر ۲۸,۱۲ مادې به د تطبيق وړې وي.

**د اکتشاف تعهدات:**
تړون لرونکی مکلف دی چې د اکتشاف په مرحله کې به لاندې فعالیتونه (البته محدود نه دي) ترسره کوي. برسېره پردې، د امتیاز اخیستونکي باید د کان کیندنې ټول فعالیتونه له نړیوالو معیارونو سره سم ترسره کړي.

- دکار پیل څخه مخکی د کاری پلان جوړول
- د توپو ګرافیکی او جیولوجیکی نقشو جوړول
- د برمې څاګانو کیندل
- جیوفزیکي فعالیتونه
- جیو فزیکي فعالیتونه
- جیو کمیاوي فعالیتونه
- هایدرو جیولوجیکل څیړنه
- د اخیستل شویو نمونو څیړنه
- کیندنې، آزموینې او تحلیل
- د راپور چمتو کول

